2 017550 139621

# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د وږي څلورمه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۲۵مه | ۵۸۶یمه ګڼه

## پاکستان د خپلو ګټو لپاره لوبېږي؛

### محمود قریشي: موږ له افغان سولې سره همکار یو، خو هند خنډونه جوړوي



۳

## ځېرې

۴ مخ

### نسیم ګل توتاخېل



استاد خپل ټول عمر زده کړو ته د خلکو په رابللو، ملت ته د نوي فکر په ورکولو او په ځانګړي ډول د پوهنتون له محصلینو سره د خپلو او هغو تجربو چې له بهرنیو هیوادونو یې راوړې وې، وقف کړی و.

## د امنیتي ځواکونو له حیثیت سره لوبې

۲ مخ

## د بلواکۍ رنګ او د خپلواکۍ قلنګ

۲ مخ

## د افغانستان په شمال کې لا هم «په خپل سر» کانونه کېندل کېږي

۳ مخ

## کرنې وزارت: د کاپیسا په مرکز او ولسوالیو کې ۱۷۷ کرنیزې پروژې پلې کېږي



د کرنې او مالدارۍ وزارت چارواکي وایي چې په کاپیسا کې ۱۷۷ کرنیزې پروژې پلې کېږي.

د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي وایي چې په دغو پروژو کې د ممیزو ۱۰۰ خونې، د پیازو د زېرمه کولو ۴۰ خونې، د کچالو ۲۰ زېرمې، د مېوو او سبو د وچولو ۵۰ لمریزې دستګاوې، د مېوو د ساتنې لپاره ۱۲ سړې خونې شامل دي چې د جوړولو کار یې په چټکۍ سره دوام لري.

نوموړي زیاته کړې چې دغه پروژې د کرنیزو محصولاتو د خرابېدو د مخنیوي په خاطر پلې کېږي چې له یوې خوا بازار مدیریت شي او له بلې خوا د بزګرانو عاید زیات شي.

د دغو پروژو ټول لګښت د کرن او مالدارۍ وزارت د بودجې له لوري ۱۲۰ میلیونه افغانۍ اټکل شوی او دغه پروژې د تګاب، نجراب، کوهبند، د کوهستان لومړۍ او دویمې برخې ولسوالیو او په د دغه ولایت په مرکز محمود راقي کې پلې کېږي.

## ایران: د ناټو او امریکا الوتکې په افغانستان کې د نشه یي توکو په لېږد رالېږد کې ونډه لري

ایران وایي، د ناټو او امریکا الوتکې په افغانستان کې د نشه یي توکو په لېږد رالېږد کې ونډه لري.

په ایران کې د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د ادارې مشر سردار سکندر مومني ویلي، په ۲۰۰۰ میلادي کال کې په افغانستان کې ۲۰۰ ټنه نشه یي توکي تولیدېدل، خو اوسمهال دا شمېره ۹ زره ټنو ته رسېدلې ده. د نوموړي په خبره، په افغانستان کې ناټو او امریکایي ځواکونه د نشه یي توکو په کښت او قاچاق کې مهم رول لري؛ ځکه د دغو دواړو لورو الوتکې په افغانستان کې د نشه یي توکو په لېږد رالېږد کې ونډه لري. ایران تر دې وړاندې هم دغه ډول ادعا کړې ده او تر څنګ یې دا هم ویلي وو چې امریکا په سیمه کې د ترهګرۍ او جګړو په پراختیا کې رول لري.

د یادونې ده چې امریکا او ناټو تر دې مهاله د ایران د دې ادعا په تړاو څه نه دي ویلي، خو له دې مخکې روسي چارواکو هم ادعا کړې وه چې امریکایان په افغانستان کې د نشه یي توکو په قاچاق او کاروبار کې دخیل دي. د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف ویلي وو چې امریکایي الوتکې له افغانستان څخه اروپا ته نشه یي توکي انتقالوي، خو امریکا هغه مهال د روسیې دا ادعاوې بې بنسټه بللې وې.

## د بندیانو د تبادلې بهیر دې بشپړ او بین الافغاني خبرې دې سملاسي پیل شي



۵ مخ

## شعیب فنا: حکومت در امر مبارزه با فساد اداری اراده جدی ندارد



اتحادیه ملی ژورنالیستان، روی ایجاد میکانیزم بخاطری تعقیب گزارش ها تحقیقی تاکید نموده می گوید که عدم توجه حکومت در قسمت این گزارش ها نشان می دهد که در امر مبارزه با فساد اداری اراده ندارد.

شعیب فنا رئیس اجرائیوی اتحادیه ملی ژورنالیستان دیروز به خبرنگاران گفت که کار روی گزارش های تحقیقی چیزی ساده ای نیست، هر خبرنگار و رسانه ای که جرئت نشر این گزارشات را دارد، حکومت باید از آن حمایت کرده و گزارش های آنها را تعقیب نماید.

موصوف علاوه کرد، طی چند ماه گذشته رسانه های افغانستان گزارش های مختلف را نشر کردند، اما تا کنون حکومت در این راستا هیچگونه اقدام عملی نکرده است؛ درحالی که باید افراد آلوده به فساد به ارگان های عدلی و قضایی معرفی می شدند.

وی افزود، زمانی که گزارش ها از سوی رسانه ها نشر گردید، بعداً حکومت بخاطری اداره بنام جستجو (بازرس) را ایجاد کرد، ولی تا هنوز کار عملی آن اشکار نشده است.

وی اشاره به اداره یاد شده گفت که رسانه ها و مردم از میکانیزم این اداره خبر ندارد و باید حکومت بخاطری تعقیب گزارش ها تحقیقی یک میکانیزم واضع و اداره ویژه را به حضور نمایندگان رسانه ها ایجاد کند.

وی اضافه کرد، بی توجهی حکومت در برابر گزارش های تحقیقی نشانگر اینست که حکومت در امر مبارزه با فساد اداری اراده ندارد.



## درېځ

### د امنيتي ځواکونو له حيثيت سره لوبې

ځانګړو امنيتي ځواکونو ورمه شپه په پنجشير کې د کرام الدين کريم د نيولو هڅه کړې ده، خو هڅه يې ناکامه شوې ده. ويل شوي چې د ځمکې او هوا له لارې ځانګړو ځواکونو پر جنسي ځورونو د تورن کرام الدين کريم د نيونې هڅه وکړه، خو د سيمې د خلکو له مقاومت سره مخ شول او د کريم په نيولو بريالي نه شول. آن دا هم ويل شوي چې خلکو ځانګړي ځواکونه بې وسلې کړي هم دي، هغه څه چې چارواکو تر اوسه نه دي تاييد کړي. په کابل کې چارواکي غلي دي، خو د پنجشير چارواکي تاييدوي چې دا عمليات ناکام شوي. د افغانستان د فوټبال د فدراسيون پخوانی رييس کرام الدين کريم د مالي او اخلاقي فساد په تور تر عدلي تعقيب لاندې دی، چې له اوږده وخت راهيسې په پنجشير کې اوسېږي او هلته يې امنيتي ځواکونه په نيولو نه بريالي کېږي.

د کرام الدين کريم د نيولو لپاره د ځانګړو ځواکونو کارول او هغه هم بيا ناکام عمليات، د حکومت، حاکميت او د امنيتي ځواکونو لپاره بدې پايلې لري. لومړی خو پکار وه چې دا ستونزه په ارامۍ حل شوې وی او که بيا عملياتو ته اړتيا وی، نو پکار وه چې ځانګړي ځواکونه نه وی پکې کارول شوي. که ځانګړو ځواکونو ته هم اړتيا وی، نو بيا بايد په هر قيمت چې وی، تورن نيول شوی وای. اوس چې له اوږده ځنډ وروسته دا عمليات شوي او ځانګړي ځواکونه پکې کارول شوي او بريالي شوي هم نه دي، نو دا څو منفي پايلې لري:

لومړی: له بده مرغه حکومت نشي کولی چې په ټولو مجرمينو او تورنو قانون يو ډول عملي کړي. له همدې امله ځينې واړه مجرمين په بند کې دي او ځينې لوی لا هم ازاد ګرځي.

دويم: حکومت نشي کولی چې تر خپل کنټرول لاندې سيمو کې قانون يو ډول عملي کړي. د حکومت د کمزورو کړنو له امله د هېواد يوه سيمه اوس د مجرمينو او تورنو لپاره په خوندي سيمه بدله شوې ده. له دې وروسته به نور کسان هم جرمونه کوي او بيا به له قانون څخه د خلاصون لپاره دې سيمې يا بلې داسې سيمې ته پناه ور وړي. په دې سره د ملي حاکميت نقض هم رامنځ ته کېږي چې دا لوی تاوان دی.

دريم: په دغو ناکامو عملياتو سره د امنيتي ځواکونو په اړه په ځانګړي ډول د ځانګړو ځواکونو په اړه منفي ذهنيت رامنځ ته کېږي. زموږ امنيتي ځواکونه نشي کولی چې يو مجرم ونيسي او بيا د ځمکې او هوا له لارې عمليات کوي، خو نه بريالي کېږي. که خبره د خلکو لخوا د مقاومت او مزاحمت وي، بيا هم د توجيه وړ نه ده، ځکه چې عمليات بايد داسې پلان او پټ وساتل شي، څو دا ډول ستونزې رامنځ ته نه شي. له همدې امله حکومت په دغو ناکامو کړنو سره د امنيتي ځواکونو په اړه يو منفي تصوير ورکوي.

حکومتي چارواکو ته پکار ده چې نور دا ډول خامې لوبې پرېږدي، قانون بايد پر ټولو خلکو او ټولو سيمو کې يو ډول عملي شي. هېڅوک او ځای بايد د قانون له واکمنۍ بهر نه وي. امنيتي ځواکونه بايد په داسې حالتونو کې پرېکنده عمل وکړي او د يو پياوړي ځواک تصوير خلکو ته وړاندې کړي.

# د بلواکۍ رنګ او د خپلواکۍ قلنګ

ولي الله ملکزی

په هندو مذهب کې هولي هغه جشن ته ويل کيږي چې د هر توکم، جنس، ژبې او سيمې خلک د مارچ په مياشت کې يو ځل په يو ستر ميدان کې سره راټوليږي. ټوله ورځ سندرې وايي، ناځي، يارانې کوي، سترګک وهي او په پای کې يو په بل باندې دومره رنګونه وشيندي چې د پېژندلو نه وي؛ خو چې ما ښام کورونو ته ستړي ستومانه ستانه شي، نو بيا هماغه کاست او هماغه طبقاتي ژوند وي، چيرته چې برهمن له شودر سره په يو ټغر او يو دسترخوان نه شي کېناستلای. ځکه له رنګونو جوړ ټالونه يوازې د ساتيرۍ لپاره وي، کوم چې ډېر نازک، عاشقانه او زنګيدل پرې ممکن نه وي.

بيا بيا به مو ليدلي وي، کله چې د تيز باران شيبې په کميدو شي، نو په تورو وريځو کې د اوبو څاڅکي د لمر له شعاع سره يو ځليدلی کمربند جوړ کړي. د آسمان په پراخې لمن کې دغې اوږدې او غځېدلې ليکې ته په افسانوي او شاعرانه ژبه کې، رنګين کمان يا ژيړه زرغونه کاسه ويل کيږي. د لمر په ډوبيدو سره، دغه له اوو رنګونو جوړه ښکلا تری تم او د خيالونو په يوې تراشل شوې نړۍ باندې بدله شي. مينان يې په خوبونو کې ويني او شاعران ورباندې بګتۍ او چاربيتې ليکي.

د سيرلانکا، اندونيزيا او لاتيني امريکا په ساحلي ځنګلونو کې د کربوړې له خاندانه يو وړوکی حيوان دی چې په انګريزۍ کې ورته کميلين (Chameleon) ويل کيږي. دغه غټ سترګی حيوان چې کله ښکار ته ځان برابر کړي يا له خپله ځانه دفاع کوي، نو په دواړو حالتونو کې د سترګو په رپ کې خپل رنګ بدلوي، دښمن په غفلت کې اچوي څو ځان ورڅخه بچ کړي. مګر د پوستکي دغه آبي، نارنجي او ګلابي رنګونه مازې د يو څو شيبو لپاره وي او د ټګمارې حشرې اصلي ماهيت پخپل ځای پاتې وي.

د سياست په بې رحمې دنياګۍ کې د محکومو ولسونو او تپل شوو دولتونو حالت هم کټ مټ همدغسې رنګين، کاواکه او بې اختياره وي. که څوک يې په خاورې اغزن تار تيروي، که څوک يې ځوانان سيندونو ته اچوي او که څوک يې په خپلو اوبو کې تږي ساتي، خو دوی به چُپ او لاس تر زنې لاندې ناست وي. که څوک ورته دوه سري حکومتونه جوړوي، که څوک دولتي اسرار غلا او په ګاونډيانو يې خرڅوي، که څوک له نغدو ميليونونو ډالرو سره نيول کيږي، که څوک يې د هيواد د اتلانو سپکاوی کوي، دوی به ځان ناګاره نيسي او خپله شوله به خوري چې بی پردې نه شي. د خپلې هوا، ارادې او تصميم واک به نه لري، د بهرنيانو سترګو او خوښۍ ته به ګوري. ټولې پريکړې او غوښتنې به يې لنډمهالې، خود ګذره او د تودو شګو د سراب په څير وي.

که د خپلواکۍ غورځنګونو د معاصر تاريخ په پاڼو کې د سوبو، شهامتونو او غزاګانو په هکله ليکل شوي داستانونه، خبرونه او کارنامې ولټوو، نو زياتره يې په افغانه وينه کاږل شوي دي. د شلمې پيړۍ په پيل کې د انګريزي ښکيلاک د جغرافيې او واکمنۍ ساحه دومره پلنه او سوره وره وه چې که يوې خوا کې به يې شپه وه، نو بله خوا به روڼ سهار و. په همدغسې يو خوړين او زبېښلي پړاو کې له نن څخه يو د پاسه سل کاله وړاندې يو ځوان، هوډمن او د خپل ولس له نبض سره اشنا ټولواک، غازي امان الله خان د پيرنګيانو له بلواکۍ څخه د خپلواکۍ بغاوت اعلان کړ.

له هغې ورځې را نيولې تر ننه دی ولس د خپلې آزادۍ لپاره د ميليونونو انسانانو د کوپړيو قلنګ نذرانه کړ، د نړۍ ټولو ځپل شوو ولسونو ته يې د حق غوښتنې الهام ورکړ. د آسيا او افريقا په لر او بر کې د خپلواکۍ ترانې وغږول شوې او ګام په ګام د مقاومت او شهامت شمعې بلې شوې. که لرې ولاړ نه شو او يوازې د نږدې سيمې هيوادونو ته وګورو چې د قربانۍ کچه يې زموږ د قربانۍ پارسنګې هم نه ده، نو دوی ډېر بختور دي. څوک اتاتورک لري، څوک خميني، څوک ګاندي او څوک جناح لري، خو زموږ په هيواد کې ځينې معلوم الحاله کړۍ او اړخونه حتی د اعليحضرت امان الله خان په رشادت، قيادت او اتلولۍ باندې شکمن دي.

ټولو وليدل د زمري د مياشتې اته ويشتمه چې د خپلواکۍ ملي او تاريخي ورځ ده، په هغې ولولې او حماسې سره ونه لمانځل شوه څومره چې پکار وه. د هيواد په اکثرو ولايتونو کې داسې نه ښکاريده چې ګوندې موږ د خپلو رښتينو اتلانو د يادونې او قدرونې سره مينه لرو، يا يې له ارزښت او هنر سره بلد يو. ولې هم د خوښۍ او هم د حيرانتيا خبره وه چې په لندن کې هغو افغان سيکانو او هندوانو په دوديزو ګډاګانو او ميلو سره دغه ورځ ولمانځله، څوک چې په دې وروستيو کې هيواد پريښودلو ته اړشول. په دوبۍ کې عربو شيخانو د دوستۍ او پيوستون په عنوان، د نړۍ تر ټولو اوچت بلډنګ، برج الخليفه د افغانستان د ملي بيرغ په دريو رنګونو باندې ټوله شپه روښانه او ځلانده وساته.

ټول منو چې عمري خلافت بيرته نه را ګرځي. د حضرت پيغمبر (ص) دويم خليفه په مصر کې د خپل والي، عمرو بن العاص د زوی د وهلو امر په دې خاطر ورکړی و، چې د يو غريب قبطي د زوی انتقام ترې واخلي. د ټولنيز عدالت په پار د عمر فاروق دا خبره اوس هم د کاڼي کرښه ده چې: (متى استعبدتم الناس وقد ولدتهم أمهاتهم أحرارا – له کله راهيسې مو د خلکو د غلام کولو هڅې پيل کړې، په داسې حال کې چې دوی خپلو ميندو خپلواک او آزاد زيږولي دي)؟

خپلواک سياسي نظامونه د همدغه اصل په پام کې نيولو سره طبيعي زېرمې، دولتي منصبونه او مادي امتيازات د ټولنې د ټولو وګړو تر منځ په مساوي او برابره توګه ويشي. دا چې عقيده او عقده هيڅکله په ګډه سره مزل نه شي کولای، نو له همدې امله د رعيت حقوق بايد د ژبې، سمت او سياسي وفادارۍ په تله کې ونه تلل شي، بلکې د پوهې، اهليت او کفايت له مخې وويشل شي. د ولس او واکمن ترمنځ واټن، بايد د درناوي په مزبوت مزي تړل شوي وي. ځکه خپلواکي همدا ده چې يو انسان د دې وس ولري چې په خپله خوښه د خپلې ارادې او باور په رڼا کې تصميم ونيسي او د چا فشار، زور او نظر ورباندې ونه تپل شي. د حقوقو او سياست پوهان د خپلواکۍ بل تعريف داسې کوي: په يوې ټاکلې جغرافيې کې چې ځلور خواوې يې معلومې وي، د وضع شوو قوانينو په چوکاټ کې دننه، د وينا، تصميم او عمل واک درلودل، خپلواکي بلل کيږي.»

موږ افغان ولس به هله د سيالانو سيال شو چې سياسي آزادي ولرو او خپل واکمنان په خپله خوښه وټاکو. موږ به هله شمله ور او مټه ور ولس وګڼل شو کله چې د خپلو سرچينو مالکان او اقتصادي پلانونه په خپل لاس د خپلو اړتياوو له مخې جوړ او پخپلو لاسونو پلي کړو. موږ به هغه مهال رښتيني خپلواک شو، کله چې زموږ ځوانان د ټوپک پر ځای قلم په لاس کې ونيسي، د وينو د سور رنګ پر ځای د مشواڼې تور رنګ ته ترجيح ورکړي. ميرمنې د دې ټولنې مساوي او نيمه برخه وګڼل شي، د انحصار ځای ملي مشارکت او د افراط ځای د اعتدال په برخه شي. موږ به هغه مهال يو غښتلی، منلی او پياوړی هيواد شو کله چې شيعه او سني مذهبه، ازبک، تاجک، هزاره، پښتون او نور قومونه په ګډه او د زړه له تل څخه دا يوه ناره په يو غږ زمزمه کړو چې: يو الله، يو هيواد، يو افغان!

## د عامې روغتيا پخوانی وزير او د دغه وزارت څلور مرستيالان د فساد له امله لوېې څارنوالۍ ته معرفي شوي



د عامې روغتيا پخوانی وزير ډاکټر فيروزالدين فيروز او د وزارت څلور مرستيالان د فساد او وظيفوي غفلت له امله لوېې څارنوالۍ ته معرفي شوي دي.

د افغانستان د پلټنې (بازرس) ادارې د اطلاعاتو او اړيکو رييس فيروز بشري ويلي چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د عالي مقام د ۷٦۵ حکم له مخې، د بازرس ادارې ته دنده سپارل شوې وه چې د کرونا ويروس لګښتونه وڅېړي او پلټنه يې وکړي.

هغه زياته کړې، د څېړنو په پايله کې د عامې روغتيا وزارت پخوانی وزير او د دغه وزارت د يوه برحاله مرستيال په ګډون څلور مرستيالان د نورو پلټنو لپاره لوېې څارنوالۍ ته معرفي شوي دي.

بشري وايي چې پر دغو کسانو له خپلو وظيفوي واکونو د ناسمې استفادې او د کرونا لګښتونو د بېځايه لګولو او فساد تورونه دي.

نوموړي د دغو مرستيالانو نومونه په ډاګه نه کړل، خو يوې بلې باوري سرچينې پژواک ته ويلي چې د عامې روغتيا پخوانی وزير ډاکټر فيروزالدين فيروز، پخواني مرستيالان ماموسۍ زېور، ډاکټر شفيق شهيم، ډاکټر وحيد مجروح او فدا محمد پيکان څارنوالۍ ته معرفي شوي دي.

د عامې روغتيا وزارت يوه مرستيال چې د نوم له ښکاره کولو يې ډډه کوله، پژواک ته ويلي چې د بازرس ادارې له تېرو څو اونيو راهيسې په وزارت کې د يادې قضيې په اړه څېړنې او پوښتنې کولې او تورنو کسانو ته يې استعلامونه ورکړي وو.

د يادونې ده چې په هېواد کې د کرونا ويروس له خپرېدو سره سم په عامې روغتيا وزارت نيوکې وخت ناوخته نيوکې کېږي چې له ياد ويروس سره په مبارزه کې ناکام دی او په دې برخه کې پراخ فساد هم شوی دی.

بلخوا د عامې روغتيا وزارت وايي چې په ټول هېواد کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر ۳۸۰۵۴ ته رسېدلی دی.

د ياد وزارت له خوا تېره ورځ خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په تېرو ۲٤ ساعتونو کې د هېواد په لابراتوارونو کې د کرونا ويروس ۲٤۸ شکمنې پېښې ازمايل شوې چې ۵۵ يې مثبتې دي. سرچينه وايي چې د يادو پېښو په ثبتېدو سره په هېواد کې پر کرونا ويروس د اخته کسانو شمېر ۳۸۰۵۴ ته لوړ شو.

د عامې روغتيا وزارت د معلوماتو له مخې، په تازه ثبت شوو پېښو کې ۲۲ په هرات، ۱۸ په دايکندي، شپږ په کابل، څلور په ننګرهار، څلور په غزني او يو هم په کونړ کې دی.

په خبرپاڼه کې زياته شوې چې په تېرو ۲٤ ساعتونو کې ۱٤۹ کسان له کرونا ناروغۍ بېرته روغ شوي چې له دې سره په هېواد کې له کرونا ويرس څخه د بېرته روغ شوو کسانو شمېر ۲۸۳٦۰ ته ورسېد.

# د افغانستان په شمال کې لا هم «په خپل سر» کانونه کيندل کېږي

نجيب الله پاڅون

ډېره برخه سکاره د سمنگان د دره صوف بالا سيمې له کانونو ايستل کېږي.
د افغانستان په شمال کې د سکرو تصدي وايي، لا هم دغلته سلگونه کسان پخپل سر د کانونو پر کېندلو بوخت دي. د چارواکو په خبره، ځيني کانونه د طالبانو او زورواکو په لاس کې دي او هلته د کان کېندونکو خونديتوب ته هم پام نه کېږي.
د افغانستان د کانونو او پټروليم وزارت د افغانستان په شمال کې هغه کانونه د خطرناکو سيمو په توگه يادوي، چې په خپل سر کېندل کېږي او کاريگر يې د مړيني له گواښ سره مخ دي.

په سمنگان کې د ډبرو سکرو کان او د کاريگرو وضعيت:

د ډبرو سکرو ډېره برخه د سمنگان د دره صوف بالا سيمې له کانونو ايستل کېږي.
له کانونو بيا د مزارشريف په ختيځ کې د سکرو لوی سرای ته وړل کېږي. هلته هره ورځ د سکرو سلگونه گاډي خالي کېږي چې وروسته يې ډېره برخه پاکستان ته وړل کېږي.
خو دا سکاره دومره په اسانه نشي را ايستل کېدای، کله خو ان د کان کېدونکو ژوند ته د پای ټکی ږدي.
پخوانی کان کېدونکی حسن په کانونو کې د کاريگرو د وضعيت په اړه وايي: «که چېرته يو کس د سکرو کان ته لاړ شي او د کاريگرو وضعيت وگوري، نو وبه ژاړي. په هغو کانونو کې چې کاريگر کار کوي، که تاسو ته وويل شي چې يو لک افغانۍ درکوو لاړ شئ، نو وبه يې نه منئ.»
خو دا سکاره دومره په اسانه نشي را ايستل کېدای، کله خو ان د کان کېدونکو ژوند ته د پای ټکی ږدي.
د دايکنډي ولايت د شهرستان ولسوالۍ اوسېدونکي گوهرشاد بيا وايي، د تره زامنو په گډون يې د همدې کلي څو تنه کاريگر په شمال کې د سکرو په کانونو کې وژل شوي دي.
د افغانستان د کانونو او پټروليم وزارت وايي، د هغو کاريگرو د مړيني کره شمېر نه دی ورمالوم چې پخپل سر کانونه کېندي.
خو د دايکنډي يو قومي مشر سردار علي بيا وايي، هر کال د دغه ولايت نږدې ۲۰۰ تنه اوسېدونکي په شمال کې د سکرو په کانونو کې ټپيان او يا خپل ژوند له لاسه ورکوي چې د ډېرو کسانو مرگ ژوبله پټه پاتې کېږي.
بېکاري او بې وزلي د دې لامل شوې چې ځيني کارگران له خطرونو سره سره په دا ډول کانونو کې کار وکړي.
نږدې دوې مياشتې وړاندې د سمنگان په شباشک سکرو کان کې د يوې چاودنې له امله شاوخوا ۱٦ کاريگر ووژل شول.
د سمنگان امنيه قومنداني وايي، د دغې پېښې اصلي لامل يو سيمه ييز زورواکی دی. دوی وايي، نوموړي ته څو ځله خبرداری ورکړل شوی و چې په دې سيمه کې مېتان گاز شته او خطر پېښولی شي. خو بيا يې هم په خپل سر کيندنې کولې.
د دغه ولايت د پوليسو په خبره، د پېښې عامل کس اوس تر عدلي او قضايي څار لاندې دی.

په افغانستان کې د سکرو کانونه او خپل سري کېندنې

نږدې دوې مياشتې وړاندې د سمنگان په شباشک سکرو کان کې د يوې چاودنې له امله شاوخوا ۱٦ کاريگر ووژل شول.
نږدې دوه مياشتې وړاندې د سمنگان په شباشک سکرو کان کې د يوې چاودنې له امله شاوخوا ۱٦ کاريگر ووژل شول.
د افغانستان په ۱٦ ولايتونو کې د سکرو نږدې ۴۰۰ کانونه پېژندل شوي چې په خپل سر کېندل کېږي.
د رسمي معلوماتو له مخې، يوازې د سمنگان سکرو کان په ۵۰۰ سمڅو کې په خپل سر کېندنې روانې دي.
د کانونو وزارت وياند عبدالقدير مطفي په خبره، په وروستيو کلونو کې د کانونو د خونديتوب کمېټې په ننگرهار، بدخشان، کندهار، هلمند، پکتيا او پروان کې د دغو خپل سرو کېندنو مخه نيولې او په شمال کې هم دا هڅې روانې دي.
چارواکي او کاريگر دواړه وايي، په هغو کانونو کې د کارگرو خونديتوب ته يو څه پام کېږي چې په قانوني توگه کېندل کېږي.
د کانونو وزارت په خبره، د هغو کانونو مسوولانو ته يې سپارښتنه کړې چې د خپلو کاريگرو خونديتوب ته پام وکړي او د بيمې اسانتيا يې هم ورته برابره کړي.


# پاکستان د خپلو گټو لپاره لوبېږي؛

## محمود قريشي: موږ له افغان سولې سره همکار يو، خو هند خنډونه جوړوي



پاکستان د خپلو دوه مخو لوبو په دوام اوس وايي چې هند د افغان سولې په برخه کې خنډونه جوړوي. د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي تازه په يوه خبري غونډه کې ويلي چې پاکستان د افغان سولې لپاره هڅه کوي، خو هند په دې لار کې خنډونه جوړوي. بلخوا پاکستان بيا تازه د طالبانو لوړپوړي مشران په تور لېست کې شامل کړي چې شنونکي يې د سولې په لار کې د خنډ جوړولو په مانا بولي. له دې سره همهاله د طالبانو يو پلاوی پاکستان ته تللی او وايي چې د سفر موخه يې افغان سوله ده.
پاکستان د افغانستان هغه گاونډی گڼل کېږي چې دلته په روان ۴۰ کلن ناورين کې ښکېل دی او په مستقيمه توگه يې د جگړو په دوام کې ونډه اخيستې ده. اوس تازه ځان د افغان سولې همکار بولي، خو په عمل کې داسې اقدامات کوي چې له سولې سره په ټکر کې گڼل کېږي. پاکستان داسې مهال چې د افغان سولې لپاره په نړيواله کچه هڅې روانې دي، طالب مشران تر بنديزونو راوستي دي. د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت د تېرې شنبې په ورځ په يوه اعلاميه کې ويلي وو چې د طالبانو دوه مهم مشران ملا برادر او سراج الدين حقاني له دې وروسته پاکستان ته سفر نه شي کولی او په پاکستان کې يې ټولې شتمنۍ کنگل دي. د چارو شنونکي د پاکستان دغه کار د سولې په لار کې په ښکاره توگه د خنډ جوړولو په مانا بولي.
اوس بيا پاکستان هڅه کوي د خپل بام واورې پر بل واچوي. د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي وايي چې هند د افغانستان د سولې په پروسه کې خنډونه جوړوي. نوموړي په دې اړه نور هېڅ وضاحت نه دی ورکړی چې هند په دې لار کې کوم خنډ جوړ کړی دی.
قريشي په يوه خبري غونډه کې وويل چې دوی د افغانستان د سولې پروسې ته ژمن دي او په دې برخه کې همکاري کوي، خو هند په دې لار کې د خنډونو جوړولو ته ادامه ورکړې ده. د ده په وينا: ((د سولې په برخه کې زموږ رول ټوله نړۍ ستايي. موږ د سولې لپاره ډېره هڅه کوو، خو هند اوس هڅه کوي چې دغه پروسه له خنډ سره مخ شي)).
محمود قريشي داسې مهال دغه څرگندونې کوي چې د طالبانو يو پلاوی له بنديزونو سره سره له قطر اسلام اباد ته تللی دی. د پاکستان د بهرنيو چارو وزير وايي چې د ملا برادر په مشرۍ دغه پلاوي يې د سولې په اړه د خبرو لپاره پاکستان ته وربللی دی. ملا برادر پر ده د بنديزونو له وضع کېدو يوازې يوه ورځ وروسته پاکستان ته تللی دی او دا مسئله ټولو نړيوالو رسنيو ته د حيرانتيا وړ ده.
د قطر دفتر وياند سهيل شاهين بيا وايي چې دا بنديزونه مخکې هم پر طالبانو وو، خو د سولې هوکړې له لاسليک سره يو څه نرم شوي وو. نوموړی وايي چې له پاکستان سره به د سولې په تړاو د دوی تگ راتگ دوام لري، خو په دې وروستيو کې د کرونا ويروس د پراختيا له امله سفرونه ځنډېدلي وو. طالبان بيا د خپل سفر موخه صرف د افغان کډوالو په اړه خبرې، بين الافغاني مذاکراتو په تړاو بحثونه او ځينې نور مسايل ښيي.
طالب پلاوي په داسې وخت کې پاکستان ته سفر کړی دی چې په افغانستان کې يې جگړې شديدې کړې دي او له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته نه حاضرېږي. دوی د پاکستان حکومت په رسميت پېژني، خو افغان حکومت ته د امريکا د لاسپوڅي په سترگه گوري. بلخوا نړيوالې رسنۍ بيا وايي چې د امريکا د بهرنيو چارو وزير ښايي منځنۍ ختيځ او خليج هېوادونو ته د سفر په لړ کې قطر ته هم لاړ شي او له طالب استازو سره وگوري. په دې اړه دقيق راپورونه نه دي خپاره شوي.
افغان سوله په ظاهره توگه د پاکستان له لوري منحصره شوې ښکاري او پرون هم د چارو يو شمېر شنونکو مسير ورځپاڼې ته ويلي وو چې دغه هېواد غواړي له افغان سولې د خپلو گټو د تامين لپاره گټه پورته کړي.

# د بېلاروس دفاع وزير: که لاريونوال سرې کرښې ماتې کړي، پوځ به يې پر وړاندې اقدام وکړي



د بېلاروس د پوځ له خبرداري سره سره، په لسگونو زرو کسانو د دغه هېواد په مرکز مېنسک ښار کې د لاريون پر مهال د ولسمشر الکساندر لوکاشينکو د استعفا غوښتنه وکړه.
دا په داسې حال کې ده چې د ياد هېواد د اگسټ د نهمې له ټاکنو وروسته دا لاريون له هغو لويو لاريونونو څخه و چې د ښار په لارو او کوڅو کې د پوځيانو له حضور سره وشو.
په ورته وخت کې د بېلاروس دفاع وزير ويکتور خرينن ويلي: «دا مظاهرې د فاشيستانو تر بيرغونو لاندې د بېلاروس د خلکو، روسانو، يهودانو او نورو ميليتونو د وگړو د ډلهييزې وژنې لپاره تنظيم شوې». د نوموړي په وينا، دوی يې پر وړاندې سکوت نشي کولای. هغه ويلي، که لاريونوال سرې کرښې ماتې کړي، پوځ به يې پر وړاندې اقدام وکړي.
دغو لاريونوالو چې د اپوزيسيون سور او سپين رنگه بيرغونه يې اوچت کړي وو، د مېنسک په ښار کې د لاريون پر وخت د «آزادۍ» او «موږ به يې هېر نه کړو، موږ به يې ونه بښو» شعارونه ورکول.
په ورته وخت کې د ياد هېواد د اپوزيسيون مشرې ماريا کوليسنيکووا ويلي: «زموږ مقاومت د ماراتون ځغاسته ده، رژيم د دغه ماراتون پر وړاندې څه نشي کولای، خو موږ يې کولای شو. موږ د دې کار لپاره نيت، قوت او د يو بل ملاتړ لرو. موږ بايد وليکو. ووايو، ودرېږو، شکايت وکړو، نا هم آهنگه واوسو، پرېکون وکړو او ورسره موافق نه اوسو او دې کار ته دوام ورکړو.»
دغه راز د بېلاروس د حکومت مخالفې مشرې سوتلانا چيخانوفسکيا چې د دغه هېواد په ټاکنو کې د لوکاشينکو پر وړاندې ولاړه وه، د اگسټ په ۱۹مه يې د اروپايي ټولنې له هېوادونو وغوښتل چې د دغه هېواد له درغليو ډکو ټاکنو پايلې په رسميت ونه پېژني.
چيخانوفسکيا د ټاکنو پايلې نه مني او له خلکو يې غوښتي چې د حکومت پر ضد خپلو لاريونونو ته دوام ورکړي.
د بېلاروس اوسني ولسمشر الکساندر لوکاشينکو چې له ۱۹۹۴ ز کال راهيسې واکمن دی، ادعا کړې چې د اگسټ د نهمې په ټاکنو کې يې ۸۰ سلنه رايې گټلې دي.
بلخوا د امريکا د متحده ايالاتو او اروپايي ټولنې په گډون يو شمېر غربي هېوادونو د بېلاروس د ټاکنو پايلې د اندېښنې وړ بللې او د حکومت له لوري د سولهييزو لاريونونو ځپل يې غندلي دي.
خو د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين د بېلاروس د وروستيو ټاکنو او د هغه هېواد د ولسمشر لوکاشينکو ننگه کړې ده. پوتين خبرداری ورکړی چې هر ډول بهرنۍ مداخله به په هغه هېواد کې رامنځته شوی کړکېچ نور هم سخت کړي.

## د کتــاب خبــرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري

## فرصتونه او ستونزې

◎ لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### لومړی فصل

### دڅېړنې کلیات




د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته د نړیوالتوب پروسې د سیمه‌ییزې همکارۍ په پراختیا کې مهم او د پام وړ رول ترسره کړ، نړیوال کېدو او د اقتصاد او ازاد بازار پراختیا یو پر بل د هېوادونو تړاو او تکیه کول ډېرکړل، له همدې امله اوسمهال هیڅ یو هېواد د دې وړتیا نه لري، چې خپل ملي اقتصاد په یوازې ځان مدیریت کړي سیمه‌ییزه همکاري نه یوازې دا چې له نړیوالتوب سره ټکر نه لري، بلکې نړیوالتوب او سیمه‌ییزه همکاري له یو بل سره مرسته او یو بل پیاوړي کوي .

افغانستان چې د اسیا په زړه کې موقعیت لري، په شمال کې یې د مرکزي اسیا هېوادونه، په ختیځ کې یې چین، په لوېدیځ کې یې ایران او په سوېل کې یې د سوېلي اسیا هېوادونه پاکستان او هند موقعیت لري د افغانستان جیو ستراتیژیک موقعیت ته په پام د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا کولای شي د افغانستان په اجتماعي، اقتصادي ودې او پرمختګ او د سولې او ثبات دټینګښت په برخه کې مهم رول ترسره کړي له همدې امله د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتېژۍ کې د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا ته ځانګړی ځای ورکول شوی و او د افغانستان حکومت د افغانستان په تړاو د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانسونو (ریکا) د جوړېدو او د استانبول پروسې د پیل لپاره زمینه او شرایط برابرکړې وو.

افغانستان د سیمې د سوداګریزو او ترانسپورتي لارو په څلورلارې کې قرار لري د افغانستان جیو ستراتیژیک موقعیت ته په پام د سیمې له هېوادونو سره د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې د اړیکو او همکاریو پراختیا د افغانستان لپاره ځانګړی ستراتیژیک ارزښت او اهمیت لري افغانستان د خپلو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د حل لپاره اړدی، چې د سیمې له هېوادونو سره همکاریو ته پراختیا ورکړي. له بل لوري له افغانستان سره مرسته او همکاري د سیمې د هېوادونو د امنیت او ثبات د ټینګښت او پرمختګ لپاره مهمه ګڼل کېږي .

د افغان حکومت لپاره د سیمې له هېوادونو سره د همکاریو پراختیا او سیمه‌ییزه همکاري یو له مهمو لومړیتوبونو څخه ګڼل کېږي له همدې امله د افغانستان د ملي پراختیا په ستراتېژۍ کې د سیمه‌ییزې همکارۍ پر پراختیا ټینګار شوی دی .د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې د هڅو په پایله کې د ۲۰۰۵ زکال په ډسمبر کې د افغانستان په اړه د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانس لومړنۍ غونډه په کابل کې جوړه شوه .په سیمه کې ځینې سیمه‌ییز سازمانونه، لکه د جنوبي اسیا هېوادونو د همکاریو سازمان یا سارک، د اقتصادي همکاریو سازمان یا ایکو او د مرکزي اسیا د اقتصادي همکاریو سازمان چې افغانستان یې غړیتوب لري د سیمه‌ییزې همکارۍ په پراختیا کې مهم رول ترسره کړی دی. د پورتنیو سازمانونو ترڅنګ افغانستان د شانګهای د همکاریو په سازمان کې څارونکی غړی هېواد دی اود شانګهای سازمان یوه مهمه موخه د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو پراختیا ده.

افغانستان چې د اسیا په زړه کې موقعیت لري، ځانګړی موقعیت یې د دې سبب شوی، چې دغه هېواد د سیمې د هېوادونو ترمنځ د اړیکو او همکاریو د پراختیا په برخه کې مهم رول پیدا کړي.د افغانستان حکومت هڅه کړې چې د سیمې له هېوادونو او سیمه‌ییزو سازمانونو سره خپلو همکاریو او اړیکو ته پراختیا ورکړي او د افغانستان حکومت په خپل بهرني سیاست کې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره هڅې کوي، د همدې سیاست له مخې افغانستان د سیمې له ځینو هېوادونو سره خپلو همکاریو ته پراختیا ورکړې وه.

د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره د خلکو نږدې کېدل او د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د فرهنګي، علمي، اړیکو او همکاریو پراختیا ډېر مهم رول لري. د سیمې د اوسېدونکو ترمنځ د یو ګډ هویت رامنځته کول او په سیمې پورې د هغوی تړل د سیمه‌ییز کېدو په لور یو مهم ګام ګڼل کېږي، د نظریاتو، لیدلوریو، عقایدو او ادبیاتو تبادله د یو ګډ سیمه‌ییز هویت رامنځته کولو او له ګډ پوهاوي سره ډېره مرسته کوي . سیمه‌ییزې همکارۍ یوازې په اقتصادي برخې پورې تړلې نه ګڼل کېږي، بلکې د سیمې هېوادونو ترمنځ په سیاسي، اقتصادي، امنیتي او فرهنګي برخو کې هم همکاري او اړیکې د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا لپاره مهمې ګڼل کېږي. افغانستان د سیمې له هېوادونو سره ګډ فرهنګي، دیني، جغرافیایي او تاریخي مشترکات لري او زموږ د هېواد ثبات او امنیت د سیمې هېوادونو له بهرنیو تګلارو او حالاتو سره مستقیم تړاو لري، دا چې د افغانستان بې ثباتي د سیمې د هېوادونو پر ثبات مستقیمې اغېزې لري، په همدې ډول د سیمه‌ییزې همکارۍ پراختیا د افغانستان او سیمې پر حالاتو هم مستقیم اغېز لري .

د سیمې اوسېدونکي له تاریخي، فرهنګي او مذهبي پلوه ډېر مشترکات لري، د سیمې حالاتو او بدلونونو تل د افغانستان پر حالاتو اغېز درلودلای دی . د تاریخ په اوږدو کې د سیمې وګړو د افغانستان له لارې سوداګري او تګ راتګ کړی چې له امله یې د سیمې ډېر هېوادونه ګډ فرهنګي ارزښتونه لري . د سیمې هېوادونو له پخوا څخه ګډ فرهنګي او تاریخي مشترکات او له یو بل سره نږدې، دیني، ژبني، اقتصادي، تاریخي او فرهنګي تړاوونه لرلي دي، د وریښمو تاریخي لار چې د سیمې هېوادونه او ختیځ او لوېدیځ یې له یو بل سره له اقتصادي پلوه تړلي له افغانستان څخه تېره شوې وه. له همدې امله افغانستان د سیمې او نړۍ د مختلفو هېوادونو او سیمو ترمنځ د پله حیثیت درلود.

**دوام لري...**

# نسیم ګل توتاخېل



الحاج پوهاند نسیم ګل توتاخېل، د پکتیا ولایت د سید کرم ولسوالۍ د توتاخېلو په لوړ کلي کې زیږېدلی دی. په کوچنیوالي کې یې د کلي د جومات له ملا د الفبا له سپارې زده کړې پیل کړې، ورپسې یې ټول قران عظیم الشان ختم کړی، وروسته یې پنج کتاب، ګلستان، بوستان، مراسلات او خلاصه ولوستل. همدارنګه د آخوند بابا د مدرسې له لوی مدرس مولوي صاحب یې قدوري، کنز، فقه، نور ظلم او په پای کې د قران شریف تفسیر پیل کړ. دی، د کندرخېلو لیسې د لومړنۍ دورې په فارغینو کې د لیسې د عمومي اول نمره په توګه فارغ شو او د هغه کال د کانکور په ازموینه کې یې برخه اخیستې. تر ازموینې وروسته د کابل پوهنتون ساینس پوهنځي ته په لوړو نمرو بریالی شو. د ساینس په پوهنځي کې تر څلورو کلونو زده کړو وروسته په اعلی درجه فارغ او بېرته په یاد پوهنځي کې د علمي کدر په توګه ومنل شو.

اروابناد استاد توتاخېل په ساینس پوهنځي کې د پوهیالي او پوهنیار د علمي رتبو له اخیستلو وروسته، د لوړو زده کړو لپاره جرمني ته واستول شو. د جرمني د لایپزیک ښار په هردر انستېتیوت کې د جرمني ژبې له زده کړې وروسته، مارتین لوتر پوهنتون ته ورمعرفي شو. هلته د نظري او عملي زده کړو په څنګ کې د ماستري تیزس لیکلو او دفاع په پایله کې یې اعلی درجه دیپلوم تر لاسه کړ. تر دې وروسته هیواد ته راستون او بیرته په خپل پوهنځي کې د استاد په توګه وټاکل شو. د استادۍ په اوږدو کې د پوهنمل، پوهندوی او پوهنوال اکاډمیکو رتبو له اخیستلو وروسته، د پوهاندۍ علمي رتبې ته د رسیدو لپاره په څېړنیز کار لاس پورې کړ او دغه رتبه یې هم واخیسته.

الحاج توتاخېل د ۳۰ په شاوخوا کې علمي – څېړنیز آثار لري، چې په هېواد کې د ننه او بهر په معتبرو علمي مجلو او ژورنالونو کې خپاره شوي دي. همدارنګه توتاخېل، جرمني، جاپان، هند او مسکو ته علمي او رسمي سفرونه، پاکستان او سعودي عربستان ته شخصي سفرونه کړي دي. ده په پښتو، دري، جرمني او انګلیسی ژبو لیک لوست او تدریس کولای شوای. تر یوې اندازې پورې په عربي هم پوهېده. په معاصره ټکنالوژۍ یې ځان پوه کړی او د تدریس په چارو کې یې له ټولو اړینو تکنالوژیکو او الکترونیکي وسایلو استفاده کوله.

### دولتی دندې

د کابل ثانوي تخنیک لیسې مدیر، د ساینس پوهنځي استاد، د کانکور کمیټې غړی، په کابل ښار کې د ټولنیزې- فرهنګي شورا رییس او په همدې وخت کې په فرهنګي چارو کې د پوهنې وزیر سلا کار، د لوړو زده کړو د قانون له مخې، د بیولوژي ډیپارټمنټ انتخابي مشر په توګه ټاکل شوی و، چې دې دندې یې تر اوږدې مودې دوام درلود.

### ټولنیزې دندې

د کابل میشته کندرخېلو شورا رییس؛ په ۱۳۷۸ کال کې د کابل میشتو توتاخېلو د شورا موسس غړی و. د افغانستان ملي یووالي شورا موسس او رییس و. دا شورا په ۱۳۸۲ کال د سلواغې په ۲٦ مه جوړه او عدلیې وزارت کې ثبت شوې ده. د پکتیا، پکتیکا، خوست او لوګر ولایت له کابل میشته مطرح مشرانو د جوړې شوې لویې پکتیا شورا موسس غړی، له ۱۳۸۰ کال راهیسې د آزادو رایو په نتیجه کې ۳ ځله (۱۵ کاله) د همدې شورا د منشي او رییس په توګه پاتې شوی دی. له ۱۳۸۳ تر ۱۳۸۴ د کابل ښار د څلورو مرکزي دولتي پوهنتونو د استادانو د علمي–فرهنګي ټولنې موسس غړی او منشي؛ په ۱۳۸٦ کال کې د څلورو مرکزي پوهنتونو له محصلینو د جوړې شوې (افغان محصل ټولنې) موسس؛ په کابل پوهنتون کې د (اکاډمیک عدالت) په نوم خپریدونکې ارګان موسس په توګه دندې اجرا کړې دي.

د دوستانو په سلا مشوره توتاخېل یو ځل په پکتیا او بل ځل په کابل کې ولسي جرګې ته ځان کاندید کړی دی. نسیم ګل توتاخېل په داسې حال کې چې د ولس له زیاتې خواخوږۍ، مینې، دوستۍ او باور یوه نړۍ مننه کوله، خو په دې باور و چې د ځینو چارواکو لاسوهنو او په کمېسیون کې فساد د دې سبب شو چې په ټاکنو کې بریالی نه شي.

### لاسته راوړنې

استاد توتاخیل نه یوازې دا چې په علمي او اکاډمیکو برخو کې فعالیتونه لرل، لکه څنګه مو چې مخکې یادونه وکړه په سیاسي او ټولنیزه برخه کې یې هم فعالیت درلود. ده هڅه کوله په رسنیو او میډیا کې خپل نظر څرګند کړي، د دوی په بحثونو کې ګډون وکړي، خلک راوېښ کړي، نوی فکر ورکړي او ملت جوړونې روحیه پیاوړې کړي. هغه په دې برخه کې د پام وړ فعالیتونه کړي دي. له ملي ګټو یې دفاع کړې ده، د ملت په ګټه یې سیاسي دریځ درلود او د خلکو له ګټو یې په زغرده دفاع کوله. پوهنوال توتاخېل، د خپلو همکارانو په ګډون په کابل کې د ملګرو ملتونو، اروپایي ټولنې، د مطرح هیوادو له سفیرانو او استازو سربېره، له پخواني ولسمشر حامد کرزي، اوسني ولسمشر ډاکتر اشرف غني، د ملت بابا، سردار عبدالولي، د ولسمشر له مرستیالانو، مطرح سیاسي او دولتي شخصیتونو، جهادي مشرانو او داسې نورو چارواکو سره په ځلونو غونډې کړې دي او له دوی سره یې د هېواد پر ملي ګټو او د خلکو پر ارامۍ او سوکالۍ بحثونه کړي دي. استاد توتاخیل له دوی سره خپله دا هیله شریکوله چې دلته ژر تر ژره روانه جګړه ختمه شي او د مذاکراتو او خبرو له لارې افغانستان د دایمي سولې او ثبات ټینګښت شي.

الحاج توتاخېل له ۱۳۷۸ تر ۱۳۸۲ کال پورې، پوره ٦ کاله پرله پسې مبارزه وکړه چې د مناسب او مساعد ذهنیت په رامنځ ته کولو سره استادان، علمي او فرهنګي شخصیتونه، قومي مشران او دولتي چارواکي په دې قانع کړي، چې د لویې پکتیا باتور ولس د توري تر څنګ قلم هم وچلوي او د لویې پکتیا په مرکز ګردیز تاریخي ښار کې یو قوي پوهنتون تاسیس او رڼا یې ټول تیاره ګوټونه روښانه کړي. په پای کې د استاد په هڅو د لوی خدای (ج) په فضل او د پکتیا د بېلابېلو زړورو قومونو، مشرانو، د پوهنتون استادانو او په دولت کې د پکتیا ملکي او نظامي کدرونو په مرسته په ۱۳۸۲ کال کې مبارزې رنګ راوړ او د پخواني ولسمشر لخوا د پکتیا پوهنتون د دوو پوهنځیو په تشکیل منظور شو. وروسته له پیښور د آریانا رالېږدول شوي پوهنتون درې پوهنځي ( طب، انجنیري او حقوق ) هم د ډېرو منډو په نتیجه کې منظور او د پکتیا پوهنتون برخه شول. اوس کرار کرار نور پوهنځي هم زیاتېږي او هیله ده چې پکتیا پوهنتون به د هېواد په کچه مطرح پوهنتون شي.

نسیم ګل توتاخېل، د بېلابېلو شوراګانو، مدني ټولنو او جرګو د غړي، منشي، رییس او په ورته وخت کې په فرهنګي چارو کې د پوهنې وزیر سلاکار په توګه په ۱۳۸۴ – ۱۳۸۷ کلونو کې د کابل ښار په دربیمه، پنځمه، اوومه، اتمه، نهمه، لسمه او دوولسمه ناحیه کې لومړی د مورنۍ ژبې په ملاتړ ناحیوي شوراګانې جوړې او د هغوی په مرسته یې کابو ۱۲۰ زره نجونو او هلکانو ته په خپله مورنۍ پښتو ژبه په ټولو ښوونځیو کې ټولګي جوړ او تدریس پیل کړ، چې لا تر اوسه پورې په لړ او ډېر توپیر جریان لري.

اروابناد توتاخیل، د کابل میشتو لویې پکتیا مشرانو سره په ګډه پرېکړه وکړه، چې په لاهوري دروازه کې د (ملي نجات) په نوم نړول شوی څلی بیرته ورغوي. د څلي عکسونه، سوابق او تاریخچه یې پیدا او په کار یې لاس پورې کړ. ملي سوداګرو د څلي د جوړولو لګښت په غاړه واخیست، دوه کاله یې د دولت په ادارو کې منډې وکړې، له بده مرغه د کابل ښاروالۍ د بد نیته چارواکو او د ارګ د ځینو ځان ساتو مشرانو په سبب، د څلي د جوړولو کار له ځنډ او خنډ سره مخ شو. خو وروسته په ملي شورا کې دننه او بهر ملي مشرانو وغوښتل چې د یاد شوي څلي په بیا رغولو لاس پورې کړي. هغه وو چې د لویې پکتیا، لوی ننګرهار او لوی کندهار مشران د شمالي او شمال د مشرانو په ګډون سره راټول او په ۱۳۹۵ کال کې د تلې په ۲۳ مه تاریخي ورځ د شاندارو مراسمو په ترځ کې بیرته په خپل ځای د (ملي نجات) څلي بنسټ کیښود. هغه چا ته چې په دې کار کې یې ډېرې منډې کړې وې، یو یو ستاینلیک ورکړل شو. استاد توتاخېل د تېرو او هغو مهالنیو خدمتونو په خاطر هم په یو (ستاینلیک) ونازول شو او له فعالیتونو یې مننه وشوه.

پوهنوال توتاخېل، د کابل میشته لویې پکتیا شورا د مشرانو سره په ګډه، د کابل میشته ځاځیو، څمکنیو، منګلو، ځدرانو، زرمت، ګردیز، خوست، پکتیکا او لوګر شوراګانو په جوړولو کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول همکاري کړې ده.

استاد توتاخېل، د کابل ښار د څلورو دولتي پوهنتونونو د (افغان محصل ټولنې) کابو ۴۰۰۰ زره غړي د ۱۳۸۷ کال د چنګاښ په اتمه له مرکزي لیلیې څخه تر ملي شورا پورې رهبري کړل، چې په پوهنتونونو کې په دواړو رسمي ژبو تدریس پلی شي. هغه د خپلو ټولو شوراګانو له غړو سره په ګډه د دې لپاره مبارزه کړې چې د ملي مفکورې په رڼا کې د ملت جوړونې بهیر چټک او ټولې ملي ګټې خوندي وي.

مرحوم استاد توتاخېل تر کلونو خدمت او تدریس وروسته د روان کال د اګست په ١٦مه په ناڅاپي توګه د زړه د حملې له امله له دې فاني نړۍ لاړ او خپل روح یې حق ته وسپاره. استاد د یادو کارونو تر څنګ، د ژوند تر ټولو ډېره برخه د کابل پوهنتون په ساینس پوهنځي کې په تدریس او د کدرونو په روزنه تېره کړې ده. هغه په تدریسي برخه کې یو پیاوړی کدر و چې د نړۍ په مشهورو پوهنتونو کې یې زده کړې کړې وې او هغه تجربې یې اوس خپل هېواد ته راوړې وې. نوموړی له پوره حوصلې او دقت برخمن کس و. په علمي چارو کې یې پراخه حوصله او دقت درلودل. هغه کسان چې له استاد توتاخیل سره نږدې پاتې شوي دي، د نوموړي حوصله او علمیت ستایي او په خبره یې استاد پر ملت او خلکو یو مین سړی و چې له ټولګي نیولې تر ټولونو او لوړو څوکیو تل یې د ولس په بیدارۍ او هېښولو کې هڅه کوله.

د استاد شاګردان له هغه ښې خاطرې لري. د بیولوژي پوهنځي د بوټاني ډیپارټمنټ آمر استاد حامد همدرد د استاد توتاخېل مړینه ستره ضایعه بولي او نوموړی د دې پوهنځي ویاړ ګڼي.

ګڼوملي بنسټونو، سیاسي شخصیتونو، پخواني ولسمشر او اوسني ولسمشر محمد اشرف غني د استاد توتاخېل پر مړینه د خواشینۍ پیغامونه خپاره کړي وو او د هغه مړینه یې یوه ستره ضایعه بللې وه.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۸۹ |
| Rp. | ۴۵۳ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۷,۳۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# څنگه باشخصیته واوسو؟ موږ یې څو لارې درښیو

ژباړه: رفیع الله رفیع

نېږدې ټول کسان دا مني او په دې باور دي، چې د یو شخص لپاره باشخصیته اوسېدل ښه صفت دی او تقریباً هر کس غواړي، چې باشخصیته واوسي؛ مگر د شخصیت د روزنې داسې کلیدي نقطې شته که انسان یې په ځان کې ولري د غرور احساس تر څنگ به یې پر نفس اعتبار هم پیدا شي.

تاسو غواړی داسې شخصیت ولری، هغه کسان چې تاسو مینه ورسره لری، ځان ته رامات کړئ، په همدې موخه لازمه ده، چې له هغو نقطو سره اشنا شئ، چې ستاسو شخصیت جوړولی شي.

**کولای شوو چې خپل شخصیت ته تغیر ورکړو؟ حتماً**

**لومړۍ طریقه: د ښه شخصیت د ځانگړتیاوو وده**

**اول: تل هوښیار او خوشحاله اوسئ**

هڅه وکړئ چې د نړۍ خوندونه درک کړئ او تل له هغو کسانو سره وخاندئ، چې هوښیار او خوشحاله وي او ستاسو د خندولو هڅه کوي، چې دا کار د ښه شخصیت یوه برخه ده.

**دویم: هڅه وکړئ چې په سختو شرایطو کې ارامه پاتې شئ.**

ډېر داسې کسان شته چې فکر کېږي د ښه شخصیت لرونکي دي، مگر کله چې دوی په یو ستونزمن حالت کې وي، دوی خورا بل ډول ښکاري او خپل ښه خصوصیات له لاسه ورکوي، تاسو داسې مه اوسئ، که څه هم په سختو شرایطو کې گیر یاستی، هڅه وکړئ چې ارامه پاتې شئ او فکر وکړئ چې په داسې حالاتو کې ستاسو د لاسه څه کېږي؟

د بېلگې په ډول، کله مو چې موټر په لاره کې خراب شو او د کار دفتر ته مو ناوخته شوه، په داسې حالاتو کې په چیغو او شور ماشور پیل مه کوئ، ځکه چې په دې کار سره نه ش کولای، چې مشکل حل کړی. په داسې حالاتو کې مو فکر سم کړئ او ارام پاتې شئ او په هغو لارو چارو کار وکړئ، چې څنگه کولای شی چې رامنځته شوی مشکل حل کړی.

**درېیم: ذهن مو خلاص وساتئ**

د ښه شخصیت لرلو یوه برخه د خپل فکر له تغیر سره موافق اوسېدل دي، نورو ته غوږ ونیسئ او همېشه د خپل فکر او ذهنیت تغیر ته اماده و اوسئ. یوازې په دې دلیل چې نور له تاسو سره په توپیر عمل کوي، پر وړاندې مخکې والی مه کوئ، خلاص ذهن له تاسو سره مرسته کوي، چې ډېر نوي ملگري پیدا کړی او ښکلی ژوند ولری، ضرور نه ده چې د نړۍ ټول خلک له تاسو سره همغږي وي.

**څلورم: عاجز اوسئ**

تاسو کولای شی چې د نړۍ ډېر هوښیار او ځانکړی شخص و اوسی؛ خو که عاجزي ونه لری، ممکن ښه شخصیت ونه لری، تل عدالت مراعت کړئ، هېڅوک ځان خوښوونکی شخص نه خوښوي.

**دویمه طریقه: نورو ته اهمیت ورکول**

**اول: له نورو سره مینه کول زده کړئ**

داسې ډېر کسان شته چې ښه شخصیت نه لري، ځکه چې دوی یو بل ته بخښنه نه کوي، زړه یې له نفرت څخه ډک وي او تل په غوصه وي، تاسو هڅه وکړئ چې له ټولو خلکو سره مینه وکړئ، څو په ټولنه کې باشخصیته پاتې شی.

**دویم: پوښتنه وکړئ**

ثابت پاتې کېدل نورو ته د اهمیت ورکولو مهمه برخه ده او دا کار تاسو په غوره شخص بدلوي، کوشش وکړئ چې پوه شی، چې نور له کومو شیانو سره مینه لري او کوم شیان ورته ارزښت لري، چې په دې کار سره تاسو خپله ډېر شیان زده کوی او هغوی ته د ارزښت احساس ورکوی.

**درېیم: رښتیني اوسئ**

له هغو کسانو سره چې تاسو ته نږدې دي، خیانت مه کوئ، رښتیني اوسئ او کوم کسان چې تاسو خوښوي او ستاسو ډېره ډېره ستاینه کوي، کوشش وکړئ چې په سختیو کې له هغو کسانو سره پاتې شی چې مینه درسره لري، ستاسو په ژوند کې با وفاداره خلک په سختو شرایطو کې ستاسو په خوا کې په راحتۍ سره تېرېږي.

**څلورم: د ملاتړ او لارښوونې وړاندیز وکړئ**

د بېلگې په ډول، داسې فکر مه کوئ چې هغوی په هر څه پوهېږي، د ضرورت په وخت کې همېشه نورو ته د مرستې وړاندیز وکړئ، دا کار په اسانۍ سره کولای شي چې ستاسو له ملگري سره په نوي کور کې د سامان الاتو ځای پر ځای کولو په برخه کې مرسته وکړي یا تر دې لا ډېر کېدای شي د ژوند رهنما یې و اوسي، هر څه مو چې له لاسه کېږي تر سره یې کړئ، مگر هغوی یوې ځانگړې لارې ته مه رهنمایي کوئ او د خلکو فکرونو او تصمیمونو ته احترام وکړئ.

**درېیمه طریقه: پر ځان باور مو زیات کړئ**

**اول: د ځان او نورو په اړه مثبت اوسئ**

ستاسو فکرونه ژر ژر په الفاظو بدلېږي او دا الفاظ ستاسو چلند ته تغیر ورکوي، ښه فکر مو پر ځان باورمند کوي او پر ځان باور د ښه شخصیت مهم عنصر دی. کله مو چې له خپل فکر څخه خبر وی، په اسانۍ سره کولای شی چې خپل مسیر ته تغیر ورکړی.

**دویم: ته په خپله**

په ژوند کې مو هره ورځ داسې چانسونه په لاس راځي، چې خپل شخصیت نورو ته وښیو، هڅه مه کوئ چې د هر چا په شان و اوسئ، ښه شخصیت په دې مانا نه دی چې له نورو سره مشابهت ولری. د بېلگې په ډول، که له یو کس یا یوې ډلې سره د خبرو په جریان کې یاست، کوشش مه کوئ چې بېغیر له ښه او بده هر څه چې هغه یې وایي، تاسو ورسره موافق شی، بلکې خپل نظرونه له دوی سره په درناوي شریک کړئ او په خبرو کې فعال اوسئ، تل خپله اوسه، خلک هڅه کوي چې د نورو پام ځان ته د خپلې رښتینولۍ په موخه راواړوي، په دې پوهېدل دومره ستونزمن کار نه دی، چې تاسو پوه شی چې یو شخص څومره صادق دی.

**درېیم: د خپل شخصیت مثبتو اړخونو باندې تمرکز وکړئ**

ستاسو د شخصیت هغه برخې له لاسه ورکول خورا اسانه دي چې پرمختگ ته اړتیا لري، هڅه وکړئ چې له دې کار څخه ځان وساتئ، د خپل شخصیت هغو برخو ته پاملرنه وکړئ چې تاسو فکر کوی نور یې خوښوي او هڅه وکړئ چې هغه برخې نورې هم پیاوړې کړئ.

**څلورم: د خپل شخصیت د هغو برخو اصلاح ته ژمن شئ، چې نه یې خوښوی**

تاسو ممکن احساس وکړی چې تاسو د خپل ځان ډېره ستاینه کوی یا دا چې تاسو به خپل مزاج ډېر ژر له لاسه ورکړی، ډېره مهمه ده چې خپل کمزوري نقاط وپېژنی، مگر تاسو باید د هغوی د شتون په خاطر له ځانه نفرت ونه کړئ، هڅه وکړئ چې خپل د مخته تگ شېبوو ته پاملرنه وکړئ، هر وخت که تاسو د غوصې په حالت کې وی، ځان مو کنټرول کړئ، کوشش وکړئ چې په بل ډول غبرگون وښیئ.

**څلورمه طریقه: ځان ته اهمیت ورکول**

**اول: هڅه وکړئ چې خپل ځان و پېژنئ**

د ځان په اړه ژور فکر وکړئ چې څوک یاستی، دا کار خورا ستونزمن دی، خو خورا مهم هم دی، هڅه وکړئ چې د هغو لارو تر منځ توپیر وکړئ، کوم چې ستاسو حقیقي شخصیت دی او تاسو ورسره چلند کوی.

**دویم: معلوم کړئ چې کوم کوم شیان ستاسو لپاره مهم دي**

په یاد ولرئ، د هغه څه په اړه پوهېدل چې ستاسو لپاره مهم دي، د خپل ځان له پېژندلو څخه هم خورا سخت دي، هڅه مه کوئ چې هغه څه انتخاب کړی چې نور یې ستاسو لپاره مهم گڼي، بلکې هڅه وکړئ هغه څه انتخاب کړئ، چې زړه مو غواړي.

**درېیم: خپل ذوقونه وپالئ**

ساتیري کول د شخصیت مهمه برخه ده، تاسو غواړی چې ښه شخصیت ولری، نه دا چې سخت و اوسی. هڅه وکړئ هغه کارونه تر سره کړئ، له کومو چې خوند اخلی. تاسو اړتیا نه لرئ چې د هغو په تر سره کولو کې خورا ماهر واوسی، یوازې جذبه کافي ده.

**څلورم: نظر ورکړئ**

د نظر څرگندول د ښه شخصیت له مهمو ځانگړتیاوو څخه ده، تاسو باید تل خپل سر د اتوماتیک ماشین په څېر ونه خوروئ، په طبعي ډول هر څوک د نظر څرگندولو حق لري، مگر ځینې وختونه خلک د شخړې د مخنیوي لپاره خپل نظرونه پټوي، له خپلو نظرونو مه وېرېږئ، بلکې هڅه وکړئ چې په شعوري ډول خپل نظر ورکړئ او د ضرورت په وخت کې که اړین وي، خپل نظر ته تغیر ورکړئ او له نورو څخه د نظر په پوښتلو کې او د خپل نظر په شریکولو کې وېره مه لرئ.

**پنځم: خپل وخت هغو شیانو ته ځانگړی کړئ، چې ارزښت درته لري**

د گیتار غږول، د خبرونو لوستل، حتی د پیلوټۍ زده کړه او نور هغه څه چې ستاسو لپاره مهم دي، یوازې د وخت مصرف ته اړتیا لري، په هغو شیانو چې تاسو یې خوښوی، ډېر وخت تیر کړئ، په هغه کې مو پوهه زیاتېږي، دا کار د دې په خاطر مه تر سره کوئ، چې نور یې خوښ کړي، بلکې یوازې د ځان لپاره یې تر سره کړئ.

# عبدالله: د بندیانو د تبادلې بهیر دې بشپړ او بین الافغاني خبرې دې سملاسي پیل شي

د ملي مصالحې د عالي شورا مشر عبدالله عبدالله د افغانانو ترمنځ د خپلمنځې خبرو د پیل پر وړاندې د پرتو خنډونو د له منځه وړلو غوښتنه کړې ده.

نوموړي پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي چې د بندیانو د تبادلې بهیر دې بشپړ او بین الافغاني خبرې دې سملاسي پیل شي.

عبدالله داسې مهال دا څرگندونې کوي چې افغان حکومت او طالبان دواړه د خپلو پاتې بندیانو د خلاصون غوښتنه کوي. طالبان ټینگار کوي چې د حکومت په بند کې د دوی پاتې ۴۰۰ بندیان باید ټول خوشي شي.

افغان حکومت د مشورتي لویې جرگې له سپارښتنې سره سم له دې ډلې تر اوسه ۸۰ تنه خوشي کړي، خو پاتې کسان لا هم نه دي خوشي شوي.

بل لور ته ولسمشرۍ ماڼۍ هم تېره اونۍ ویلي وو، له طالبانو سره د مخامخ خبرو د پیل لپاره اړینه ده چې دا ډله په خپل بند کې د افغان حکومت پاتې اسیران خوشي کړي.



د ولسمشرۍ ماڼۍ ویاند صدیق صدیقي تېره دوشنبه په کابل کې یوې خبرې غونډې ته ووېل، افغان حکومت د سولې لپاره څه باندې پنځه زره طالب بندیان خوشي کړل، خو اوس باید طالبان هم د حکومت پاتې بندیان خوشي کړي.

صدیقي که څه هم ونه ویل چې څومره شمېر حکومتي بندیان د طالبانو په بند کې دي، خو ټینگار یې وکړ چې د دغو کسانو نه خوشي کول د سولې خبرو پر وړاندې یوازینی خنډ دی.

بل لور ته په اسلام اباد کې سرچینو بي بي سي ته ویلي، افغان او پاکستاني چارواکي به راتلونکې اونۍ په کابل کې د افغان سولې په تړاو خپلمنځې غونډه کوي. سرچیني وایي، په دې غونډه کې به همدا راز پر امنیت او سوداگرۍ هم خبرې کېږي.

دا په داسې حال کې ده چې په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر یو پلاوی دا مهال اسلام اباد کې دی او تمه کېږي چې نن به له پاکستاني چارواکو سره وگوري.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي پرون په اسلام اباد کې یوې خبرې ناستې ته ووېل، د ملا برادر په مشرۍ دا طالب پلاوی یې د افغان سولې په تړاو د سلا مشورو لپاره ور بللی دی.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویلي، پر طالبانو د پاکستان اغېز ته په کتو هیله مند دي چې دغه سفر وکولی شي د افغان سولې بهیر سره مرسته وکړي. د دغه وزارت ویاندې ناجیې انوري ویلي، هیله لري چې اسلام اباد په دې برخه کې مثبت رول ولوبوي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د وږي خلورمه | د ۲۰۲۰ د اګسټ ۲۵مه | ۵۸۶یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۳۷ | ۳۸ | ۳۹ | ۳۸ | ۳٤ |
| ۱۸ | ۲٤ | ۲۲ | ۲٥ | ۲٤ | ۲۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۵۲ | لمر ختل ۰۵:۲۰ | ماسپښين ۱۱:۵۷ | مازيګر ۰۳:۳۷ | ماښام ۰۶:۳۲ | ماخوستن ۰۸:۰۱

## نړۍ



د بېلاروس دفاع وزير: که لاريونوال سرې کرښې ماتې کړي، پوځ به يې پر وړاندې اقدام وکړي

۳

## مسئولان: در چهار ماه گذشته بیش از ۲۲ هزار مهاجر افغان به گونهٔ اجباری از ایران اخراج شده اند



مسئولان حکومتی هرات می گویند که در چهار ماه گذشته بیش از ۲۲ هزار مهاجر افغان به گونهٔ اجباری از ایران از طریق بندر اسلام قلعه اخراج شده اند.
مسئولان ریاست عودت مهاجرین هرات می گویند، در حال حاضر روزانه بیش از ۵۰۰ شهروند افغانستان از سوی کشور ایران از طریق بندر اسلام قلعهٔ هرات اخراج میشوند.
جاوید نادم، رئیس عودت مهاجرین هرات گفت، در چهار ماه گذشته بیش از ۲۲ هزار شهروند افغان شامل کودکان، زنان، افراد کهن‌سال از طریق بندر اسلام قلعهٔ هرات اخراج اجباری شده اند.
از سوی دیگر شماری از شهروندانی که به تازه گی از سوی ایران از طریق بندر اسلام قلعهٔ هرات اخراج شده اند، از برخورد مأموران و کارفرمایان ایرانی به شدت ابراز نگرانی می کنند.
غلام حبیب ۵۷ ساله مرد کهن سال است که پس از هفت ماه کارگری در ایران، به تازه گی اخراج شده است. این مرد کهن‌سال از برخورد نادرست کارفرمایان و مأموران ایرانی انتقاد می کند و میگویند: «از دست جبر به ایران رفتم، چیزی نداشتم، پول من را آنجا گرفتند و برایم ندادند، من از دست جبر رفته بودم نه مستی، پنج تا شش ماه آنجا بودم و کار کردم وقتی گفتم پول من را بدهید، گفتند برو گمشو.»
در این مورد قونسلگری ایران در هرات مي گوید هر شهروند افغانستان که بدون پاسپورت وارد خاک ایران شود، اخراج خواهند شد.

## راپورونه: په فلیپین کې دوو غبرګو چاودنو ٦٩ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده

د فلیپین په جنوب کې په دوو غبرګو چاودنو کې چې یو یې ځانمرګی برید و، لږ تر لږه ۱۴ کسان وژل شوي او ګڼ نور ټپیان شوي دي.
د راپورونو له مخې، په وژل شویو کې یې اووه عسکر، یو د پولیسو افسر او شپږ عام خلک شامل دي. چارواکو ویلي چې دا چاودنې په سولو په ښار کې شوي چې اکثریت اوسېدونکي یې مسلمانان دي.
د یاد هېواد چارواکو ویلي چې په دې سیمه کې د ابوسیاف په نامه وسله واله ډله مرکزونه لري او حکومتي ځواکونه د پخوا راهیسي ورسره په جګړو اخته دي. د فلیپین د پوځ یوه ویاند ډګرمن کورلیتو وینولان ویلي چې په لومړۍ چاودنه کې چاودېدونکي مواد په یوه موټرسایکل کې ځای پر ځای شوي او د یو مارکېټ مخې ته چاودنه ورکړل شوې، خو کله چې پولیسو او پوځ سیمه کلابنده کړه، یوې مېرمنې په ځان پورې تړلي بمونه وچول او ګڼه مرګ ژوبله یې واړوله.
په ورته وخت کې عیني شاهدانو ویلي چې عسکرو کوښښ کاوه چې دغه مېرمن ونیسي، خو هغې له نیول کېدو وړاندې ځانمرګی وکړ. د دغه هېواد روغتیایي چارواکو بیا ویلي چې په چاودنه کې ۲۱ عسکر او ۴۸ عام کسان ټپي شوي هم دي.

## راپورونه: د ترکیې په شمال کې سیلابونو خلکو ته درانه ځاني او مالي زیانونه اړولي دي



د راپورونو له مخې، د ترکیې په شمالي سیمه کې سیلابونو پنځه کسان وژلي او یوولس تري تم دي.
د ترکیې جمهور ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي چې دغه سیلابونه توري بحیرې ته نږدې د ګره سون په ولایت کې راغلي دي چې خلکو ته یې درانه مالي زیانونه هم اړولي دي. په ورته وخت کې په ټولنیزو رسنیو کې په خپرو شویو ویډیوګانو کې ښکارېږي چې سیلابونه دومره قوي دي چې غټې ډبرې او موټر یې په سړکونو کې له ځان سره وړل.
چارواکو ویلي چې سیلابونو د ګره سون ولایت سره په نږدې ولایتونو کې هم خلکو ته زیان رسولی دی. د ترکیې د هوا پېژندنې د ادارو مسوولینو د سیلابونو راتګ د زیات باران اوریدل ښودلي دي.
د چارواکو په دغو سیلابونو کې ۱۲ تنه ژوبل شوي هم دي او په زرګونو کسان د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي. د ترکیې د بشري مرستو ادارې ویلي چې سیلاب ځپلو سیمو ته یې د ژغورونکي ډلې او مرستې لېږلې دي. دغې ادارې ویلي چې د ګره سون ولایت یوې ولسوالۍ ته ټولې غځېدلې لارې بندې شوي او دوی تر اوسه ورته عمله نه ده لېږلې. بلخوا د ترکیې د کورنیو چارو وزارت هم په یوه بیان کې ویلي چې تر اوسه ۱۵۳ کسان ژغورل شوي او شاوخوا زر کسان یې د ورکو شویو کسانو د لټون لپار ګومارلي دي.

## ژونـــد


## خپله انرژي پر منفي بافۍ مه ضایع کوئ



له بېځایه پلمو او له دې ګیلو چې ګواکې عواید مو لږ دي، ځان وژغورئ. د دې ډول کړنو پر ځای عملاً لاس پکار شئ. خپله انرژي پر منفي بافۍ مه ضایع کوئ. هڅه وکړئ چې خپل تمرکز او قوت موخې ته پر رسېدو ولګوئ. پیاوړې اراده ولرئ او په پوره قوت سره مخ ته ولاړ شئ. سمه ده چې نن سبا په ټوله کې اقتصادي وضعیت سم نه دی او زرګونه ستونزې موجودې دي؛ خو هڅه وکړئ چې د دې ډول شیانو پر وړاندې مو لیدلوری بدل کړئ او هر څه ته له مثبت اړخه وګورئ. داسې فکر مه کوئ چې د دې هر څه قرباني تاسو یی. که هڅه وکړی، کولی شی خپل ځان رهبري کړی او اوسني وضعیت ته بدلون ورکړی. خپلې پخوانۍ تېروتنې له یاده وباسئ او چا ته د پرې ګوته مه نیسئ. نړۍ ته د مهربانۍ په سترګه وګورئ.

## مایکروسافټ خپل نوی موبایل معرفي کړ

مایکروسافټ کمپنۍ تر کلونو ځنډ وروسته خپل لومړنی دوه مخپاڼې لرونکی ځیرک موبایل معرفي کړ او د اګست له دوولسمې څخه په پرلیکه ډول د پرې اډر له لارې خرڅلاو ته وړاندې شوی. که څه هم مایکروسافټ کمپنۍ تېر کال خپل دغه ځیرک موبایل په لنډه توګه معرفي کړی و؛ خو اوس یې اعلان کړی چې د سټمبر په ۱۰مه به یې د یوې رسمي غونډې له لارې په تفصیلي توګه معرفي کړي. مایکروسافټ کمپنۍ خپل دغه ځیرک موبایل د وینډوز پر ځای انډراېډ عامل سیسټم سره وړاندې کړی او تر دریو کلونو به یې کاروونکي اپډېټ هم تر لاسه کوي. سرفېس ډوو (Surface Duo) نومي دغه ځیرک موبایل دوه ۵،٦ انچه مخپاڼې لري چې ۳٦۰ درجې تاوېږي او کله چې دواړه مخپاڼې یې پرانیستل شي، نو په ۸،۳ انچه ټېلېټ بدلېږي. دغه ځیرک موبایل مخپاڼې د کتاب په څېر پرانیستل کېږي او کاروونکي په یو وخت کې دوه مختلف کاریالونه یا د اړتیا پر مهال یوه مخپاڼه د تصویر او دویمه یې د کېبورډ په توګه کارولی شي.





د خپلو هیلو پوره کولو لپاره نغدو پیسو ته اړتیا لرئ !!!!!!!
د معاشاتو پور له په زړه پورو او آسانو شرایطو سره ترلاسه کړئ
• د پور آسانتیا په افغانیو او امریکایي ډالرو کې شتون لري
• لنډمهاله پور د 12 میاشتو سره
• آسان سند جوړونه
• د دولتي، غیر دولتي او خصوصي سکتور کارکوونکي کولی شي دغه پور ته لاسرسی ولري
دلازیاتو معلوماتو لپاره ز مونږ نږدې څانګې یا هم په مرکزي دفتر کې د پورونو څانګې څخه لیدنه وکړئ او یاهم ز مونږ 24 ساعته شمېرې1515 سره اړیکه ټینګه کړئ
عزیزي بانک
Azizi Bank
www.azizibank.af
1515